


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!




# عبدالحفيظ « مليار ـ ساپی »

د نشرنيته: 5 اکتوبر 2026 ميلادی

# غزل



زه افغان ابن افغان يم
ننګيالی يم قهرمان يم
ملالۍ غازي مې مور ده
زه تاريخ د خوشالخان يم
د امير کروړ لمسی يم
زه شمله د ميرويس خان يم
زه لودي يم زه سوري يم
زه غوري زه غزنويان يم
هوتکي يم ابدالي يم
زه فاتح د اصفهان يم
زه نامداره د جهان يم
زه د لوی افغانستان يم
خپله خاوره مې ناموس ده
مليار تير ورته له ځان يم
زه افغان ابن افغان يم
ننګيالی يم قهرمان يم
***
عبدالحفيظ « مليار»

www.said-afghani.org — اصلی صفحه